شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۶/۲۷

# ګلروپۍ

زموږ د کلي جینکو په منځ کې، بیا یوه بله خبره توده شوه، چې ګاونډ ته مو یوه نوې کډه راغلې وه.
په ټکنده غرمه کې موږ ټولې د ویالې پر غاړه ناستې او د دوبې په دې توده ورځ کې مو، خپلې پښې په اوبو کې ایښې وې. د ویالې تر څنګ د شنو شفتلو پټې کې بزګر په ریبلو بوخت و او ورسره، د نورو وحشي ګلانو بوي مستونکی و.
په دې شیبه کې، سرلوخې، په داسې حال کې چې د ویالې، په سړو اوبو کې لاس تر څنګل پورې ښکته کړی و، په موسکا سره یې موږ ټولو پنځه تنه همزولو ته وکتل، داسې یې کړه:
اې خبرې یاستئ، چې علاقه دار کاکا خپلې ځمکې ته نوی بزګر نیولی دی. پنځه واړو جینکو په یو اواز پوښتنه وکړه؟
څوک دی او علاقه دار کاکا خو بزګر درلود. هغې کړه:
دا یوه میاشت وشوه او تاسې لا خبرې نه یاستئ.
موږ د ویالې پر غاړه خپل سرونه راوړاندې او غوږونه سره نږدې کړل. سرلوخې چې له موږ نه یې، عمر یوه دوه کاله زیات وو، خپله ټنده تروه کړه او داسې یې کړه:
دا څه وایې؟ تاسې تر اوسه نه یې خبرې او د بزګر ښایسته لور مو نه ده لیدلې.
له دې خبرې سره یې مخامخ وکتل، زموږ سترګې بې اختیاره په هغه لور واوښتې.
په پاخه عمر کې یوه ښځه،چې دوه کلنه ماشومه یې په غیږ کې وه او بله، ښکلې پیغله ورسره روانه وه.
زموږ په منځ کې د خوشالۍ ولوله پورته شوه، همدا یادوې. هغې کړه هو کنه، تاسې لا تر اوسه نه وه لیدلې. په یو اواز مو وویل:
دا له کومه راغلې ده؟
سرلوخې مو په ځواب کې کړه:
د دې جېنۍ نوم ګلروپۍ دی. په همدې خبرو، خبرو کې ګلروپۍ، چې نرۍ دنګه ونه او ښکلو سترګو یې، زموږ پام ځانته واوړه وو، تر څنګ مو تیره شوه.
پوخ سور رنګه د خاصې پوړنې یې په سر و او د ویښتانو کوڅۍ تر ځنګنونو رسیدلې. سرلوخې د ګلروپۍ په هکله خبرې په داسې ډول وکړې، چې له موږسره یې د هغې د پوره پیژندنې تلوسه ډیره کړه او ترینه چاپیره شو،لا مو پوښتله، سرلوخه د ګلروپۍ په ستاینه نه مړیده او همداسې غږیده، نورې ډیرې خبرې یې وکړې، خو دا یې زیاته کړه:
د علاقه دار کاکا دوې د بزګر کلا ته یې کډه له کومې وړاندې سیمې راوړې ده، ټوله ورځ په کلا کې، له خپلې مور سره د کور په کارونو کې بوخته وي او یوه شیبه له مور څخه نه بېلیږي.
د غرمې تنورونه لمبه شول او ټولې جینکۍ د کورونو په لور خورې شوې. مازدیګرمهال و، چې زموږ د کلا دروازې ځنځیر وشرنګیده، زه د انګړ په منځ کې د توت ونې لاندې، پر ایښې کټ ناسته وم، زه لا پورته کیدلم، چې له ما کشر لس کلن ورور مې دروازې ته منډه کړه او هغه یې پرانیسته.
یو غر شو، ټولې جینکۍ د انګړ منځ ته راغلې، زه هکه پکه شوم، چې خبره څه ده، په دې شیبه کې، سرلوخې زما غوږ ته خوله نږدې کړه او داسې کړه:
څه چې ځو! د ګلروپۍ لیدلو ته. ما وویل:
دومره تادې په څه کې ده؟ هغې په موسکا سره کړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خبره نه یي چي زما ورور اوس د سربازۍ دوه کلني دورې نه کور ته راستون شوی. مور مي ورته جینۍ لټوي. همدا ګلروپۍ به ورته په نښه کړو.
سرلوخه مي شاته ټیله کړه او داسي مي ورته وویل:
ته بوډۍ اوس دومره شوې چي ورور ته ښځه لټوې. هغې زما پر خوله لاس کېښود او زه یي د ځان خواته نږدې کړم، داسي یي کړه:
یره ته خو په سیند کي د لاهو کولو یې. زه کومه مشره خور او یا ترور نه لرم، همدا زه او مور مي یوو. څلور ورونه مي دي، مور مي راته همدا خبرې په غوږ کي شرنګوي، چي کومه جینۍ دې ولیده، نو ژر مي خبره کړه.
زه چي خبرو وهڅولم، مور مي، په ګنډلو بوخته وه، له همدې شیبې مي ګټه پورته کړه او په بیړه، د کلا په لور له خپلو همزولو سره روانه شوم. هغوي خوارانې هم چوپ چاپ روانې وې.
د کوڅې په هغه بله خوا کي د علاقه دار کاکا دوي کلا تر څنګ یي د بزګرانو کلا وه. مور یي دروازې ځنځیر وشرنګوو. له یو څه ځنډ وروسته د کلا دروازه پرانیستل شوه او د ګلروپۍ تنکۍ زلمي ورور په دروازه کي راښکاره شو. سرلوخه وروړاندې شوه، په غلي اواز یي وویل:
مور ګلروپۍ ته راغلي یوو. هلک ژر په ستنه شو او ګلروپۍ ته یي اواز وکړ:
راشه روپۍ! چي جینکۍ درته راغلي دي.
ګلروپۍ په بیړه زمور خواته راغله او په خندا سره یي زمور هر کلی وکړ. سرلوخي کړه:
ګلروپۍ مور همدلته د ویالي پر غاړه راټولیږو، ته هم راوځه چي خبرې اترې سره کوو او ښه به مو ساعت تېر وي.
هغې خپلي اوږدې کوڅې شاته واړولي او پر ګلابي مخ یي سرخي وغوړیده. په ناغه دارو سترګو کي پوښتني وې.
په غور یي مور ته وکتل او بیا یي وویل:
زه د ماشومانو له کرارولو نه وزګاریږم. سرلوخي کړه:
زما هم وروته واړه دي، خو مور مي پالنه کوي.
هغې له حیا نه په ډکو کتلو سره کړه:
دا خو مي خپل بچي دي.
زمور د اوه واړو د هرې یوې .له خولي، یو غږ پورته شو:
څه دا ستا بچي دي؟
دلته یي مور تر شا راښکاره شوه او زمور پوښتنو ته یي د پای ټکی کېښود.د ګلروپۍ پلار دا څلور کاله مخکې مړ شو او د دي د پلار ترېوران، دوه ورونو، زه او زما دولس کلنه لور، ګلروپۍ په نکاح کړه.
دا دي ګلروپۍ اوس د دوه و ماشومانو مور ده، چي ستاسي له ډلي وتلي ده.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ